مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۹/۱۹

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## دوهسوهاتهلسمه برخه

تورې تیارې به خدای کړي ورکي
د رڼـايـي ځـرکــونـه‌ پـل رالـنـدوينـه

که جهان ټول غنم ـ غنم شي
زمونږ په کور کي لا مرۍ نه شته مئينه

څنګ به دې وبښم لالیه
له خدای راکړې خندا تا بې برخي کړمه

د لنډیو د دې برخي لپاره، دا لنډۍ غوره شوې دي:

خدایه د عقل باران وکړې
چي له خیرنو زړونو یوسي نفرتونه

یاره شوده به درته ښکارم
شوده مي مه ګڼه قسمت خوار کړی یمه

ستا په یارۍ کي داسي خوښ یم
چي ناست ایرو ګې، ځان پر تخت حسابومه

زما راستي دي لیونۍ کړه
چي سرې مرمۍ به اورېدې، بیا هم درتلمه

پر کومه لارې، رانه ورکه
د سترګو دید مي ورځ په ورځ کمی کوینه

د خدای کرم چي پر چا وشي
هغه څه وشي چي په خیال کي نه راځينه

تورې تیارې به خدای کړي ورکي
د رڼـايـي ځـرکــونـه‌ پـل رالـنـدوينـه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

که واکمني مې لاس کي راغله
قلم کتاب به پښتنو ته ورکومه

زه د بېلتون د جګړې نه يم
بېلتون مې هرڅه ـ هرڅه اور باندې سېځينه

دا نيمه شپه بوی د لونګو
چېري به مستو پېغلو کړي اتڼونه

که جهان ټول غنم ـ غنم شي
زموږ په کور کې لا مړی نه شته مېئينه

د نفرتونو بازار تود دی
جانان ته وايه خوله دې پټه ګرځوينه

نوره مې ټوله وليدلې
پيکی دې لرې که چې سترګې ووينمه

ځنګ به دې وبښم لاليه
له خدای راکړې خندا تا بې برخې کړمه

د غوړېدو هيله مې نه شته
جانان په تمه د باران کرلې يمه

په څوک څه وايي کې دې نه يم
لالی هندو ښه دی چې نه مې زوروينه

په ګل کې ته راته ښکارېږې
چې چېرې ګل وينم دَمه ورته کومه

زموږ شوې دواړه برخې خوارې
دلته بې ياره هلته واړه دوزخونه

د سر زورئ انجام دې وليد
د لښکر سر ـ سر ته کيدې، کونډه دې کړمه

ادې اوبه راپسې پاشه
په سختو لارو قاچاقي له ملکه ځمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ